بانک The Bank
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۲۲۲ گڼه - ۱۴۴۷ رجب المرجب - ۱۴۰۴ مرغومی

# د برېښنايي ادائينو د پراختيا ستراتيژي؛
## د روڼتيا، مالي ثبات او ډيجيټلي راتلونکي پر لور ملي ګام

۱ مخ



# ګرانو هېوادوالو!

که چېرې مالي مؤسسو ته د مراجعې پر مهال له کومې ستونزې سره مخ کېږئ، یا له تاسې سره نامناسب چلند کېږي او یا هم ستاسې حقونه د اصولو پر بنسټ نه درکول کېږي، نو کولای شئ چې خپل شکایت مو د customer.protection@dab.gov.af برېښنالیک، د ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ تیلیفون شمېرې او یا د +۹۳ ۷۹ ۸۷۰ ۳۷۵۵ وټس اپ شمېرې له لارې د افغانستان بانک د مالي پېرېدونکو له برخې سره ثبت کړئ. موږ به ژر تر ژره ستاسو شکایتونو ته رسېدنه وکړو.

# هموطنان عزیز!

در صورتیکه حین مراجعه به یکی از مؤسسات مالی به کدام مشکل مواجه می شوید ویا با شما برخورد نامناسب صورت می گیرد ویا هم حقوق شما به اساس اصول پرداخت نمیگردد، شما می توانید شکایت خویش را از طریق ایمیل آدرس customer.protection@dab.gov.af، شماره تیلیفون ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ ویا شماره وتس اپ +۹۳ ۷۹ ۸۷۰ ۳۷۵۵ با بخش حقوق مشتریان مالی د افغانستان بانک ثبت نمایید. ما به شکایت شما به اسرع وقت رسیدگی می نماییم.



**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**

- د برېښنايي ادواينو د پراختيا ستراتيژي؛ د روڼتيا، مالي ثبات او ډيجيټلي راتلونکي پر لور ملي ګام ۱
- آيا د بانکونو د مقرراتي او څارنيزو ادارو سياسي خپلواکي د مالي ثبات په ښه کېدو کې رول لري؟ ۲
- پول ديجيتلی بانک های مرکزی؛ تحول تدريجی در نظام مالی معاصر ۵
- د سرو زرو بيې ولې په لوړېدو دي؟ ۸
- از نقدينگی تا قدرت: استفاده از ذخاير ارزی بطور ابزار فشار و سياست ۱۲
- اقتصادي خبرونه ۱۷
- نقش اقتصاد اسلامی در تقويت نظام مالی و توسعه پايدار ۱۹
- نړۍوال فشار او کورنۍ ثبات: د افغانستان انفلاسيون د نړۍ او سيمې په تله کې ۲۳
- The Role of Central Banks in Economic Stability ۳۱

**مسئول مدير: انور الله حيات**

**خبريالان: سيد خالد خالقيار او عبدالقيوم عالم**

**ډيزاين: خالد احمد فيضي**

**فوټوژورناليست: زيرک مليا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: نولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټليفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښناليک: magazine@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۲۲

د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاوير مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د برېښنايي ادراینو د پراختیا ستراتیژي؛ د روڼتیا، مالي ثبات او ډیجیټلي راتلونکي پر لور ملي ګام

د ۱۴۴۷ رجب المرجب ۲۱ مه د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي صدیق‌الله خالد په مشرۍ، د افغانستان د برېښنايي پیسو او ادراینو د مؤسسو د ټولنې او د یادو مؤسسو له استازو سره غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د بانکي سیستمونو له لارې د عوایدو د راټولولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و رعاه د حکم د تطبیق، او همدارنګه د ریاست‌الوزراء د قدر وړ مقام له لورې د برېښنايي ادراینو د پراختیا د منظورې شوې عمومي ستراتیژۍ د پلي کولو اړوند موضوعات بحث شول.

په دې غونډه کې د برېښنايي ادراینو د پراختیا د عمومي ستراتیژۍ په برخه کې د اړوندو اداراتو پر مسئولیتونو، او د برېښنايي مؤسسو د رول په اړه خبرې اترې وشوې. همدارنګه په یاده غونډه کې په برېښنايي ډول د عوایدو د راټولولو، د دې عوایدو د را ټولولو پر څرنګوالي، له نغدي معاملاتو څخه الکترونیکي معاملاتو ته د اوښتلو او په دې برخه کې د فرصتونو، خنډونو او حل‌لارو په هکله بحثونه تر سره شول.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد وویل چې د افغانستان بانک په هلو ځلو سره مونږ و توانیدو چې د ریاست الوزراء د قدر وړ مقام څخه د برېښنايي ادراینو د پراختیا د عمومي ستراتیژۍ منظوري تر لاسه کړو، چې دا به له یوې خوا د مالي نظام د عصري کولو، شفافیت او حساب ورکولو زمینه برابره کړي او له بلې خوا به د هېواد په هغو لرې پرتو سیمو کې چې بانکي څانګې پکې نشته د خلکو لپاره د چټکو او عصري خدمتونو وړاندې کولو ته لاره هواره کړي.

نوموړي زیاته کړه چې د دې ستراتیژۍ تطبیق یوازې د یوې ادارې کار نه دی، بلکې دا یو ملي مسئولیت دی، تر څو ټولې اړوندې ادارې او بنسټونه په ځانګړې توګه د برېښنايي پیسو او ادراینو مؤسسې په دې برخه کې اړین رول ولوبوي او دا مؤسسې په بازار کې خپل حضور څرګند او درنو هېوادوالو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي.

ښاغلي خالد د خپلو خبرو په بله برخه کې وویل چې ډیجیټل کول به افغانستان د پرمختللي، متمدن او له مالي پلوه پر یو باثباته هېواد بدل او د نړۍ‌والو اقتصادونو سره به یې سیال کړي.

په دې غونډه کې د برېښنايي پیسو او ادراینو د ټولنې استازو د یادې ستراتیژۍ جوړول او منظوري لویه لاسته راوړنه یاده کړه او په دې برخه کې یې د افغانستان بانک هڅې او د افغانستان اسلامي امارت ژمنتیا وستایله. د برېښنايي پیسو او ادراینو د مؤسساتو استازو خپلې ستونزې او وړاندیزونه د افغانستان بانک سره شریک کړل، چې د افغانستان بانک ورته اړوندو برخو کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

باید وویل شي چې د یادې ستراتیژۍ پر بنسټ د عمل پلان چمتو شوی، چې ډېر ژر به د اړوندو ادارو او د برېښنايي پیسو او ادراینو له مؤسساتو سره په همغږۍ مؤثر او عملي ګامونه پورته شي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي فدا محمد فیضان، د برېښنايي ادراینو د پراختیا عمومي ستراتیژۍ د تطبیق په برخه کې د عامه پوهاوي پر اهمیت خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې اړوند مؤسسات باید له خپله اړخه په دې برخه کې خلکو ته د عامه پوهاوي پروګرامونه پلي کړي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک ژمن دی چې د هېواد په ګوټ، ګوټ کې درانه هېوادوال مالي خدمتونو ته آسانه لاسرسی ولري او په دې وسیله له رسمي مالي او بانکي خدمتونو برخمن شي.

# آیا د بانکونو د مقرراتي او څارنيزو ادارو سياسي خپلواکي د مالي ثبات په ښه کېدو کې رول لري؟

**دا مقاله د نړۍوال بانک له ويب پاڼې څخه ژباړل شوې ده.**

آيا د بانکونو د مقرراتي او څارنيزو ادارو په لوړه کچه سياسي خپلواکي مالي ثبات لوړوي؟ داسې ښکاري چې پاليسي جوړوونکي هم په دې قضيه کې له دې نظر سره هم‌غږي دي. د ۲۰۰۸ زېږديز کال د مالي کړکېچ راهيسې، مقرراتي او څارنيزو ادارو ته له سياسي ادارو څخه زياته خپلواکي ورکول شوې ده. د بازل کمېټې د اغېزناکه بانکي څارنې د بنسټيزو اصولو څخه يو يې له حکومت څخه د څارونکو خپلواکي ده. د پيسو نړۍوال صندوق او نړۍوال بانک په منظمه توګه د دې اصل په پام کې نيولو سره د هغوی د مالي سکتور د ارزونې پروګرام د يوې برخې په توګه ارزونه کوي. دا ارزونې ډېری وخت خپلواکي يو له هغو اصولو څخه ګڼي چې د پلي کېدو تر ټولو ټيټه کچه لري.

د مالي ثبات د خوندي کولو لپاره د خپلواکۍ د ګټورتيا دليل روښانه دی. ټاکل شوي چارواکي ښايي داسې هڅونې ولري چې له راتلونکو ټاکنو مخکې د پورونو د لوړولو لپاره په اړوندو ادارو فشار راولي ترڅو بانکي مقررات نرم يا څارنه کمه کړي. په دې توګه، سياستوال کولای شي لنډمهاله اقتصادي وده وهڅوي او خپلې ټاکنيزې ګټې زياتې کړي، خو خپلواک څارونکي له دې ډول دورانونو څخه خوندي وي، دا چاره دوی ته اجازه ورکوي تر څو د لنډمهاله سياسي ګټو پر ځای اوږد مهاله مالي ثبات ته لومړيتوب ورکړي.

خو پر دې هر څه سربېره، آيا مقرراتي او څارنيزه خپلواکي په ريښتيا هم له يو ډېر ثبات لرونکي بانکي سيستم سره تړاو لري؟



نړۍوال بانک دا پوښتنه په یوې نوې څېړنه کې پلټلې. که څه هم د مالي ثبات لپاره د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ ګټې له نظري پلوه ښې روښانه دي، خو په دې تړاو عملي شواهد کم او یو شمېر محدودیتونه لري. نړۍوال بانک دې ستونزې ته د یو نوي شاخص په جوړولو سره چې د ۱۹۹۹ څخه تر ۲۰۱۹ پورې د ۹۸ هېوادونو د بانکونو د مقرراتي او څارنیزو ادارو سیاسي خپلواکي اندازه کوي، رسېدنه کړې ده.

یاد شاخص د مقرراتي او څارنیزو ادارو قانوني خپلواکي د درېیو اړخونو: اداري، مقرراتي او بودجوي خپلواکیو پر بنسټ اندازه کوي. اداري خپلواکي د څارنیزې ادارې د مشر د ټاکلو، ګوښه کولو او د دندې د څنډولو پر بنسټ اندازه او ارزول کېږي. مقرراتي خپلواکي هغه کچه اندازه کوي چې اداره د خپل تر څار لاندې سکتور لپاره د تخنیکي قواعدو او مقرراتو په جوړولو کې څومره خپلواکي لري. بودجوي خپلواکي دا څرګندوي چې څارنیزه اداره د خپلو مالي سرچینو په ټاکلو کې څومره خپلواکي لري، ځکه سیاستوال کولای شي د مالي سرچینو د محدودولو له لارې پر ادارو فشار راوړي او په سمه توګه د دندو د تر سره کولو توان یې کم کړي. د یادونې وړ ده چې دا شاخص د مرکزي بانک د خپلواکۍ له دودیز شاخص سره توپیر لري، ځکه هغه په ټولیزه توګه پر پولي سیاست باندې تمرکز کوي. سربېره پر دې، په ډېرو هیوادونو کې بانکي مقررات او څارنه یوې داسې ادارې ته سپارل کیږي چې له مرکزي بانک څخه جلا وي.

د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ شاخص ښیي چې په هېوادونو کې د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ له پلوه د پام وړ توپیر شتون لري، ځینې هېوادونه بانکي څارونکو ته په ډېره لوړه کچه خپلواکي ورکوي، خو په ځینو نورو هېوادونو کې دا کچه د پام وړ ټیټه ده (۱ ګراف ته مراجعه وکړئ). په دې توګه دا جوتیږي چې د مقرراتي او څارنیزو ادارو خپلواکي د مرکزي بانک د خپلواکۍ په شان په یو ډول او په ورته چټکۍ سره پرمختګ نه دی کړی (۲ ګراف ته مراجعه وکړئ). حال دا چې د ۲۰۰۰مو کلونو له پیل راهیسې د مرکزي بانکونو خپلواکي په پرلپسې او نسبتاً چټک ډول زیاته شوې ده، خو د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ کچه یې د وخت په تېرېدو سره ډېره ورو لوړه شوې او ډېر نابرابر بدلونونه یې تجربه کړي دي.

**۱ ګراف: د بانکونو د مقرراتي او څارنیزو ادارو خپلواکي**




**سرچینه:** فراکارولي او نور (۲۰۲۵).

## ۲ ګراف: د مرکزي بانکونو او مقرراتي او څارنیزو ادارو د خپلواکۍ تکامل




**سرچینه:** فراکارولي او نور (۲۰۲۵). د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ په اړه د فراکارولي او نورو (۲۰۲۵) او د مرکزي بانکونو د خپلواکۍ په هکله د رومیلي (۲۰۲۲) ډیټا کارول شوې ده.

نو، آیا مقرراتي او څارنیزه خپلواکي په حقیقت کې د مالي ثبات د زیاتېدو لامل کیږي؟ نړۍوال بانک همدا پوښتنه په ۶۹ هېوادونو کې له ۲۵۰۰ څخه په زیاتو بانکونو باندې و آزمویله او پایله یې دا شوه چې مقرراتي او څارنیزه خپلواکي د مالي ثبات د لوړېدو لامل کیږي او همدا ډول د مقرراتي او څارنیزو ادارو په لوړه کچه خپلواکي د بانکي سیستمونو له ثبات سره په ځانګړې توګه د هغو بانکونو له ثبات سره چې د خپلواکۍ څارنې په چوکاټ کې فعالیت کوي او لږ صعب الحصول پورونه لري، د پام وړ تړاو لري. په همدې توګه، په لوړه کچه خپلواکي د مالي ثبات د نورو شاخصونو لکه د بانکونو د دیوالیه کېدو خطر د اندازې یا د شتمنیو څخه د ګټې له ښه والي سره اړیکه لري.

دا اړیکه د پیاوړتیا د کتنو په یو لړ آزمایښتونو کې ثابته پاتې کیږي. که چیرې، مونږ د بانک ځانګړتیاوې لکه د پانګې اندازه، یا د هېواد په کچه عوامل لکه انفلاسیون، د پور او ناخالص کورني تولید نسبت او یا کلتوري چلندونه کنټرول کړو، بیا هم د خپلواکۍ او مالي ثبات ترمنځ اړیکه پیاوړې پاتې کیږي. همدارنګه، دا پایله د وسیلوي متحولونو په کارولو سره هم تائید شوې ده چې ښیي دا اړیکه نه د معکوس علت له امله او نه هم د حذف شویو متحولونو له کبله رامنځته شوې ده.

د یادونې وړ ده چې د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ مثبت اغېز د بانک په ځانګړو ډولونو پورې محدود نه دی که بانکونه لوی وي او که کوچني، دولتي وي او که خصوصي، که سیاستوالو پورې تړاو ولري او که نه (یعنې د بانک په عامل پلاوي کې سیاسي اشخاص شتون ولري او که نه) د خپلواکۍ مثبتې اغېزې په ټولو حالتونو کې په پرلپسې ډول لیدل کېږي. دا پایله د قانوني خپلواکۍ وړتیا څرګندوي چې کولای شي د سیاسي اقتصاد د محدودیتونو ور هاخوا، څارنه پیاوړې کړي.

خو په پایله کې نړۍوال بانک وموندله چې په ټوله کې څارنیز جوړښت مهم دی. د مقرراتي او څارنیزې خپلواکۍ اغېز په هغه صورت کې زیات وي چې څارنه د مرکزي بانک تر چتر لاندې ترسره شي. برعکس، په هغو حالتونو کې چې څارنیزې ادارې ډېرې ځواکمنې وي، دا اغېز ښایي منفي وي، څکه چې په دې حالت کې د خصوصي سکتور له لوري د مقرراتي انحصار خطر ډېرېږي.

همدارنګه، دا هم و آزمایل شوه چې آیا دا اغېز د کړکېچونو پر مهال هم دوام لري که نه؟ موندنې ښکاره کوي چې مقرراتي او څارنیزه خپلواکي د کړکېچ پر مهال هم د صعب الحصول پورونو له کمښت سره تړاو لري، خو د دې اړیکې احصائیوي اهمیت د عادي وختونو په پرتله کمزورې وي. په دې توګه، دا پایله په ډاګه کوي چې که څه هم مقرراتي او څارنیزه خپلواکي په ټوله کې د بانکي سیستمونو ټینګښت پیاوړی کوي، د هغې خوندي کوونکې اغېز ښایي د سیستماتیکو ټکانونو یا پراخو اقتصادي کړکېچونو پر مهال تر یوه بریده کم شي. سربېره پر دې، شواهد د پالیسۍ د روښانه احتمالي پایلو وړاندیز کوي: له سیاسي فشارونو څخه د بانکي څارونکو خوندي ساتل د مالي ثبات د لوړېدو لامل کیږي چې مقرراتي او څارنیزه خپلواکي پر یوې داسې اصلاح باندې بدلوي چې د تعقیب وړ وي.

**ژباړونکی:** فاتح الله صافی، د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی

**لیکوال:** نیکول فراکارولي

سرچینه:

1- Fraccaroli, N. (2025, June 18). Does the political independence of banking regulators and supervisors improve financial stability? World Bank Blogs – All About Finance. https://blogs.worldbank.org/en/allaboutfinance/does-the-political-independence-of-banking-regulators-and-superv



# پول دیجیتلی بانک‌های مرکزی؛ تحول تدریجی در نظام مالی معاصر

**مقدمه**

در دهه‌های اخیر، تکنالوژی های دیجیتلی نقش تعیین‌کننده در تغییر شیوه زندگی انسانها ایفا کرده‌اند. امروزه بسیاری از فعالیت‌های که پیش‌تر بصورت حضوری و سنتی انجام میگردید، به فضای دیجیتلی منتقل شده است. خدمات بانکی و مالی نیز از این قاعده مستثنا نیستند. استفاده از کارت‌های بانکی، پرداخت‌های موبایلی و سیستم های الکترونیکی، به‌تدریج جای پول نقد را در بسیاری از معاملات روزمره گرفته است.

در چنین شرایطی، مفهوم پول دیجیتلی بانکهای مرکزی به‌عنوان گامی تازه در مسیر تکامل نظام مالی مطرح شده است. این نوع پول با هدف پاسخ‌گویی به نیازهای جدید جامعه، افزایش کارایی نظام پرداخت و همگام‌سازی ساختارهای مالی با تحولات تکنالوژیکی طراحی شده و می‌تواند نقش مهمی در آینده بانکداری و اقتصاد ایفا کند.

**مفهوم پول دیجیتلی بانکهای مرکزی**

پول دیجیتلی بانکهای مرکزی نسخه الکترونیکی پول رسمی است که مستقیماً توسط بانک مرکزی یک کشور صادر و مدیریت می‌شود. این پول از نظر ارزش، اعتبار و کارکرد، تفاوتی با پول فیزیکی ندارد و می‌تواند برای پرداخت کالاها و خدمات، انتقال پول و سایر معاملات مالی مورد استفاده قرار گیرد. تفاوت اصلی آن در شکل نگهداری و انتقال است؛ به‌گونه که به جای پول فیزیکی، در قالب دیجیتلی و از طریق سیستم های الکترونیکی در دسترس استفاده کننده گان قرار می‌گیرد.

نکته مهم در مورد پول دیجیتلی بانکهای مرکزی این است که برخلاف پول های دیجیتلی غیر رسمی، دارای پشتوانه قانونی بوده و تحت نظارت کامل بانک مرکزی فعالیت می‌کند. همین

ویژگی سبب می‌شود که اعتماد عمومی به این نوع پول بیشتر باشد و بتواند به‌عنوان بخشی از نظام رسمی پول مورد استفاده قرار گیرد.

**اهمیت پول دیجیتلی**

اهمیت پول دیجیتلی بانکهای مرکزی را می‌توان در تأثیر آن بر زندگی روزمره مردم و کارکرد کلی اقتصاد مشاهده کرد. در نظام‌های سنتی، انجام بسیاری از امور مالی مستلزم مراجعه حضوری به بانک‌ها یا مراکز پرداخت است که این موضوع زمانگیر است و هزینه‌های اضافی نیز به همراه دارد. پول دیجیتلی با فراهم‌کردن امکان انجام پرداخت ها و انتقال وجوه از راه دور، این محدودیت‌ها را تا حد زیادی کاهش می‌دهد.

از سوی دیگر، استفاده از پول دیجیتلی می‌تواند سطح امنیت پرداخت‌ها را افزایش دهد. پول نقد در معرض خطراتی مانند گم‌شدن، حریق، سرقت یا جعل قرار دارد، در حالی که پول دیجیتلی با ابزارهای مانند رمز عبور، احراز هویت و نظارت سیستمی محافظت می‌شود. علاوه بر این، دولت‌ها و نهادهای ناظر می‌توانند با استفاده از پول دیجیتلی، گردش پول را دقیق‌تر رصد کرده و شفافیت مالی را افزایش دهند.

**چالش‌ها و پیش‌شرط‌های موفقیت**

با وجود تمامی مزایا، اجرای پول دیجیتلی بانکهای مرکزی نیازمند توجه جدی به چالش‌ها و پیش‌شرطهای اساسی است. فراهم‌سازی زیرساخت‌های تخنیکی مناسب، از جمله انترنت پایدار و سیستم های پرداخت امن، یکی از مهم‌ترین الزامات موفقیت این طرح به شمار می‌رود. بدون این زیرساخت‌ها، استفاده گسترده از پول دیجیتلی با محدودیت‌های جدی مواجه خواهد شد.

امنیت سایبری نیز از دیگر موضوعات کلیدی است. حفاظت از اطلاعات مالی کاربران و جلوگیری از حملات سایبری، نیازمند سرمایه‌گذاری مستمر و به روز رسانی مداوم سیستم‌ها است. علاوه بر آن، پذیرش عمومی نقش تعیین‌کننده در موفقیت پول دیجیتلی دارد. آموزش شهروندان، افزایش آگاهی عمومی و ایجاد چارچوب‌های مقرراتی شفاف، می‌تواند اعتماد لازم برای استفاده گسترده از این ابزار را فراهم سازد.

**نتیجه‌گیری**

پول دیجیتلی بانکهای مرکزی را می‌توان یکی از مهم‌ترین نو آوری های مالی عصر حاضر دانست که ظرفیت بالا برای بهبود نظام پرداخت، افزایش شفافیت و تسهیل دسترسی به خدمات مالی دارد. استفاده از پول دیجیتلی می‌تواند به‌طور چشمگیری نیاز به چاپ میلیون‌ها واحد پول فیزیکی و خسارات ناشی از سوختن یا آسیب دیدن آن‌ها را کاهش دهد و در نتیجه هزینه‌های دولت‌ها را صرفه‌جویی کند. این تحول، اگرچه با چالش‌های همراه است، اما در صورت اجرای تدریجی و مدیریت‌شده، می‌تواند نقش مؤثری در شکل‌دهی آینده نظام مالی ایفا کند.

در نهایت، پول دیجیتلی نه جایگزین ناگهانی برای نظام‌های موجود، بلکه گامی حساب‌شده در مسیر نوسازی و تطبیق نظام مالی با نیازهای دنیای امروز به شمار می‌رود.

**نویسنده: داود احمدی، آفیسر ارشد شبکه، سیستم تادیات افغانستان**

**مآخذ:**


1. International Monetary Fund. (2024). *Central bank digital currency: Progress and further considerations*. International Monetary Fund. https://www.imf.org/en/publications/policy-papers/issues/2024/11/08/central-bank-digital-currency-progress-and-further-considerations-557194
2. International Monetary Fund. (2023). *Central bank digital currency – Initial considerations*. International Monetary Fund. https://www.imf.org/en/Publications/Policy-Papers/Issues/2023/11/14/Central-Bank-Digital-Currency-Initial-Considerations-541466
3. International Monetary Fund. (n.d.). *CBDC virtual handbook*. International Monetary Fund. https://www.imf.org/en/topics/digital-payments-and-finance/central-bank-digital-currency/virtual-handbook
4. World Economic Forum. (n.d.). *Central bank digital currency: Global interoperability principles*. World Economic Forum. https://www.weforum.org/publications/central-bank-digital-currency-global-interoperability-principles/

**هر فرد افغان با افتتاح حساب بانکی نه تنها از مزیت ها و سهولت های سکتور بانکی مستفید می شود، بلکه در رشد و توسعه پایدار اقتصاد کشور نیز سهیم می شود.**





# د سرو زرو بيې ولې په لوړېدو دي؟

**(دا مقاله د نړيوال بانک له وېبلاګ څخه ژباړل شوې ده)**

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په مياشت کې د سرو زرو بيې د ژيوپوليتيکي کړکېچونو، د پانګه والو د تقاضاوو او د مرکزي بانکونو لخوا د سرو زرو د پېرېدنو د زياتېدو له امله په تاريخي ډول تر ټولو لوړې کچې ته ورسېدې. د نړيوال بانک د توکو د بازارونو د وړاندوينې د راپور پر بنســـټ، تمه کېږي چې د قيمتي فلزاتو بيې به تر ۲۰۲۶ کاله پورې په لوړو کچو کې پاتې شي .

همدا ډول، تمه کېږي چې د قيمتي فلزاتو بيـې بـه د ۲۰۲۶ کال په اوږدو کې په تاريخي ډول تـر ټـولـو لـوړې کـچـې تـه ورسېږي، حال دا چې د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کـې د قـيـمـتـي فلزاتو په بيو کې شاوخوا ۴۱ سلنه زياتوالی راغلی دی. د اکتوبر په مياشت کې د لنډ وخت لپاره د سرو زرو د هر اونس بـيـه لـه ۴۳۰۰ ډالرو څخه پورته ثبت شوې او همدا ډول د سپينو زرو د هر اونس بيه ۵۴ ډالرو ته رسېدلې، خو وروستـه يـې بـيـې پـه تدريجي ډول راکمې شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې د پلاتينو بيو هم په ۲۰۲۵ کال کې د پام وړ زياتوالی ثبـت کـړی دی.

د وړاندوینې له مخې سره زر به په ۲۰۲۶ کال کې په تاریخي ډول تر ټولو لوړې نوې بیې ثبت کړي چې اصلي لاملونه یې د خوندي پانګې لپاره د تقاضا زیاتوالی او د مرکزي بانکونو لخوا د سرو زرو دوامداري پېرېدنې په ګوته شوي دي. په ورته وخت کې د سپینو زرو بیې به هم په یاده موده کې لوړې شي چې د نوې کېدونکې انرژۍ د ټکنالوژیو لخوا د صنعتي تقاضاوو زیاتوالی او همدارنګه د خوندي پانګې د تقاضا زیاتوالی یې بنسټیز لاملونه ګڼل شوي دي. په ورته وخت کې د پلاټینو بیې به هم د محدودې عرضې په پایله کې زیاتې شي.

خو سره له دې، د قیمتي فلزاتو د بیو د راتلونکي په اړه ناڅرګندتیا لا هم د پام وړ ده. د ژیوپولیتیکي کړکیچونو بیا زیاتېدل یا د سیاستونو د ناڅرګندتیا لوړېدل ښایي د سرو زرو بیې له اوسنیو اټکلونو څخه هم پورته کړي، حال دا چې د صنعتي کړنو کمزوري کېدل کولای شي د سپینو زرو او پلاټینو پر بیو ټیټېدونکی فشار راولي او د دې فلزونو بیې له بنسټیزو وړاندوینو څخه ټیټې کړي.

د سرو زرو، سپینو زرو او پلاټینو بیې




**یادونه:** ورځني معلومات. وروستۍ مشاهده د ۲۰۲۵ کال د نومبر ٦ اړوند ده.
**سرچینه:** نړیوال بانک

د سرو زرو بیې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر د میاشتې په لومړیو کې په تاریخي ډول تر ټولو لوړې کچې ته پورته شوې، خو په وروستیو اونیو کې بیا لږ څه راکمې شوې. د سرو زرو د بیو د زیاتېدو عمده لاملونه د ژیوپولیتیکي کړکیچونو او پراخو اقتصادي اندېښنو د زیاتېدو پر مهال د خوندي پانګې زیاته تقاضا او همدارنګه د امریکایي ډالرو کمزوره کېدل او د متحده ایالاتو د پولي سیاست نرموالی ګڼل کېږي.

سربېره پر دې، سرو زرو ته تقاضا د کال په کال پرتلنې پر بنسټ د ۲۰۲۵ کال په لومړیو درېیو ربعو کې ۱۰ سلنه زیاته شوې ده چې د پانګونې د جریانونو او همدا ډول د سرو زرو ملاتړ لرونکو د تبادلې وړ صندوقونو زیاتوالی او د مرکزي بانکونو دوامداره (که څه هم کمې شوې) پېرېدنې یې اصلي لاملونه ګڼل کېږي. د اټکل له مخې د سرو زرو بیې په ۲۰۲۵ کال کې هم شاوخوا ۴۲ سلنه لوړې شوې دي چې دا زیاتوالی د ۱۹۷۰ لسیزې د کلونو له وروستیو راهیسې تر ټولو لوړ کلنی زیاتوالی دی.

همدا ډول، د قیمتي فلزاتو د بیو د ۱۹۷۹–۸۰ کلونو زیاتوالی او اوسنی زیاتوالی دواړه د ژیوپولیتیکي کړکیچونو د زیاتېدو او د امریکایي ډالرو د کمزوره وضعیت له امله رامنځته شوی. د یادو فلزونو د بیو اوسنۍ لوړېدنه د مرکزي بانکونو د بې‌ساري پېرېدنو پایله ده چې له ۲۰۲۲ کال راهیسې پېرېدنې د ۲۰۱۵–۲۰۱۹ ترمنځ کلونو د منځنۍ کچې په پرتله دوه برابره زیاتې شوې دي.

د قیمتي فلزاتو په ټولیزې تقاضا کې د مرکزي بانکونو ونډه په ۲۰۲۴ کال کې شاوخوا ۲۵ سلنې ته رسېږي، حال دا چې په ۲۰۱۵–۲۰۱۹ کلونو کې دا ونډه ۱۲ سلنه ثبت شوې وه. تمه کېږي چې د سرو زرو د بیو دا زیاتوالی به تر ۲۰۲۶ کاله پورې

دوام پیدا کړي، خو نسبتاً معتدله او ورو به وي، دا ځکه چې د رسمي سکتور تقاضا او د پانګوالو لېوالتیا په تدریجي ډول د کمېدو په حال کې ده.

**د سرو زرو نړیواله تقاضا**




**یادونه:** ربعوار معلومات. وروستی مشاهده د ۲۰۲۵ کال په درېیمې ربعې پورې تړاو لري.
**سرچینه:** نړیوال بانک؛ د سرو زرو نړیواله شورا

**د سرو زرو د لوړېدو بهیر ښکاره کوي**




**یادونه:** د تېر کال د وروستی میاشتې د اوسط په پرتله د سلنې بدلون.
د نیلي کرښې معلومات د ۱۹۷۹ کال له جنوری څخه پیلېږي او د سرې کرښې معلومات د ۲۰۲۵ کال له جنوری څخه پیلېږي.
وروستی مشاهده د ۲۰۲۵ کال د نومبر ٦ ده.
**سرچینه:** بلومبرګ؛ نړیوال بانک.

په ورته وخت کې، د سپینو زرو د هر اونس بیې د ۲۰۲۵ کال اکتوبر په نیمایي کې نږدې ۵۴ ډالرو ته چې په تاریخي ډول تر ټولو لوړه کچه بلل کېږي، زیاتې شوې دي چې بنسټیز لاملونه یې د ژیوپولیتیکي بې ثباتۍ د زیاتېدو پر مهال د خوندي پانګونې د تقاضا او همدارنګه د صنعتي سکتور د تقاضا زیاتوالی ګڼل کېږي.

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر میاشتې له نیمایي څخه وروسته د سپینو زرو بیې لږ څه راکمې شوې دي، چې په بشپړه توګه د بازار اصلاح او د عرضې د محدودیتونو په اړه د اندېښنو کموالی یې اصلي لاملونه دي. راتلونکي ته په کتو، تمه کېږي چې د سپینو زرو تقاضا به د خوندي پانګونې د پېرېدنې او همدا ډول د نوې کېدونکې انرژۍ د ټکنالوژیو د کارونې او د نیمه هادي محصولاتو په تولید کې د زیاتوالي له امله زیاته شي، حال دا چې صنعتي کارونه یې د ټولېزې تقاضا له نیمایي زیاته برخه جوړوي.

تمه کېږي چې د سپینو زرو عرضه به په اټکل شوې دوره کې یوازې په تدریجي توګه زیاته شي چې د کان کېندنې په تولید او بیا کارولو کې محدود زیاتوالی یې اصلي لامل په ګوته شوی دی. په ټولیزه توګه، د اټکل له مخې د سپینو زرو تقاضا به له عرضې څخه زیاته وي، چې له امله به یې د سپینو زرو بیې په ۲۰۲۵ کال کې شاوخوا ۳۴ سلنه زیاتوالی او په ۲۰۲۶ کال کې به ۸ سلنه نور زیاتوالی هم ثبت کړي.

**د سکتورونو پر بنسټ د سپینو زرو تقاضا په ګوته کوي**




**یادونه:** ستونونه د ۲۰۲۱–۲۰۲۵ کلونو په اوږدو کې په نړیواله کچه د هر سکتور د سپینو زرو د تقاضا ونډه ښکاره کوي. "نور"د سپینو زرو د سکتورونو ټولیزه تقاضا ده.
**سرچینه:** د سپینو زرو انستیتوت؛ نړیوال بانک

د پلاتینو بیې هم په روان کال کې د پام وړ زیاتې شوې دي، ځکه چې د پلاتینو تولید د څو کلونو تر ټولو ټیټې کچې ته

راکم شوی دی. تمه کېږي چې د پلاتینو تقاضا به په تدریجي ډول زیاته شي، خو د موټرو په برخه کې د پلاتینو د کارونې وده، چې تر ډېره د مضرو ګازونو پر بې زیانه ګازونو د بدلولو لپاره کارول کیږي او د ټولېزې تقاضا شاوخوا ۴۰ سلنه جوړوي، ښایي د برېښنایي موټرو د زیاتې کارونې له امله محدوده پاتې شي.

د دې ترڅنګ، وړاندوینه کېږي چې د صنعتي توکو او ګاڼو تقاضا به هم په راتلونکي کې لږه څه زیاته شي او عرضه به له وروستیو ټیټو کچو څخه په محدود ډول بېرته ښه شي، چې بنسټیز لاملونه یې په سویلي افریقا کې چې (د نړۍ تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد دی) د کانونو د تولید زیاتوالی او همدارنګه د موټرو او ګاڼو جوړولو له سکتورونو څخه د بیا کارونې (ریسایکل) د تولید زیاتوالی ګڼل کېږي. سربېره پر دې، تمه کېږي چې د پلاتینو عرضه به د تقاضا په پرتله کمه شي چې له امله به یې د بازار وضعیت سخت پاتې شي. د اټکل له مخې په ۲۰۲۵ کال کې د پلاتینو بیې کابو ۲۹ سلنه (کال په کال) زیاتې شوې دي، حال دا چې په ۲۰۲۶ کال کې به دا بیې شاوخوا ۴ سلنه نورې هم زیاتې شي.




**یادونه:** /ستونونه د ۲۰۲۱–۲۰۲۵ کلونو په اوږدو کې د نړۍ په کچه د هر سکتور د پلاتینو د تقاضا ونډه ښیي.

**سرچینه:** نړۍوال بانک؛ د پلاتینو د پانګونې نړۍواله شورا

د قیمتي فلزاتو راتلونکي خطرونه د زیاتېدو په حال کې دي. نوي ژیوپولیتیکي کړکېچونه، د سوداګرۍ ستونزې او همدا ډول د مالي بازارونو بې‌ثباتي کولای شي د خوندي پانګونې لپاره تقاضا نوره هم زیاته کړي او دا کار کولای شي د سرو زرو او سپینو زرو بیې د اوسنیو وړاندوینو په پرتله لوړې کړي.

له منفي پلوه، د امریکا د پولي سیاست سخت دریځ یا د ژیوپولیتیکي ترینګلتیاوو دوامداره کموالی کولای شي د پانګونې لپاره تقاضا محدوده کړي. حال دا چې د صنعتي کړنو کمزوري کېدل، په ځانګړې ډول د نوې کېدونکې انرژۍ او برېښنایي وسایلو په برخو کې کولای شي پر سپینو زرو او پلاتینو فشار راولي.

**لیکوالان:** کالټرینا تېماج او جیتېندرا کهاډان

**ژباړونکی:** عین الله عیان د افغانستان بانک د ژباړې د بورد مدیر



**اخذلیک:**

1- World Bank. (2025, January 27). When uncertainty rises, gold rallies: Precious metals surge to record highs amid global tensions. World Bank Blogs – Open Data. https://blogs.worldbank.org/en/opendata/when-uncertainty-rises--gold-rallies



# از نقدینگی تا قدرت:

## استفاده از ذخایر ارزی بطور ابزار فشار و سیاست

مسدود شدن حدود ۳۰۰ میلیارد دالر از ذخایر ارزی روسیه در سال 2022 در پی تحریم های ناشی از جنگ اوکراین، برای کشور های جهان زنگ خطر را به صدا در آورد. ذخایر ارزی و دارایی های خارجی کشورها در آمریکا و اروپا مانند اوراق خزانه آمریکا و دارایی های دالری و یورو و غیره، که سال ها به عنوان ابزارهای مصون و بی طرف نقدینگی شناخته می شدند، ناگهان به ابزار نفوذ و فشار ژیوپولیتیک تبدیل شدند. این اقدام اعتماد به بی طرفی ذخایر را در هم شکست و پالیسی سازان را واداشت تا ستراتیژی های خود را بازنگری کنند که در نتیجه حرکت به سوی طلا و یوان چین شتاب گرفت. این اقدام فقط یک تصمیم تخنیکی برای بهبود بازده یا کاهش ریسک نبود، بلکه یک ضرورت ستراتیژیک بود. اکنون نهادهای مدیریت ذخایر با تأکید بر پایداری و استقلال، در حال تعریف مجدد مدیریت ذخایر ارزی می باشند.

این تحول نشان میدهد که ذخایر ارزی دیگر صرف ابزار مالی نیستند، بلکه به بخشی از تعاملات امنیت ملی و سیاست خارجی تبدیل شده اند. کشورها دریافتند که اتکا به یک یا دو ارز غالب می تواند آسیب پذیری بزرگی ایجاد کند، به ویژه زمانی که روابط سیاسی دچار تنش شود. این تجربه همچنین بحث های تازه را در مورد استقلال مالی و ضرورت ایجاد زیرساخت های موازی برای پرداخت های بین المللی برانگیخت. بسیاری از اقتصادهای نوظهور اکنون ذخایر خود را

نه تنها به عنوان پشتوانه نقدینگی، بلکه به عنوان سپر دفاعی در برابر فشارهای سیاسی می بینند. در نتیجه، مدیریت ذخایر به یک عنصر ژیوپولیتیک مبدل شده است که تصمیم های مربوط به آن می تواند مسیر اقتصاد جهانی را تغییر دهد.

**شوک تحریم ها، جنگ های تجاری و تغییر روابط جهانی**

مسدود شدن ذخایر روسیه یک پیامی روشن به بانک های مرکزی جهان بود که دارایی ها می توانند سیاسی شوند. تحلیل های اقتصادی نشان می دهد این رویداد موجی از تنوع به ویژه در بازارهای نوظهور برانگیخت . در سال ۲۰۲۵، نگرانی های اصلی بانک های مرکزی جهان از مسائل اقتصادی به خطرات ژیوپولیتیک تغییر یافت. نتایج سمینار بین المللی مدیریت ذخایر در سویس نشان میدهد که جنگ های تجاری، تحریم ها و تغییر روابط جهانی، ذخایر ارزی را از یک ابزار مالی ساده به بخشی از روابط امنیتی و سیاسی مبدل کرده اند . بانک های مرکزی اکنون به جای واکنش های کوتاه مدت، ناگزیرند برنامه های ستراتیژیک بلندمدت برای مقاومت در برابر بحران های طولانی مدت طراحی کنند. علاوتاً استقلال بانک های مرکزی در برابر فشارهای سیاسی به عنوان یک اصل حیاتی برای ثبات پولی و کنترول انفلاسیون مطرح شده است. افزایش بدهی های عمومی، پیر شدن جمعیت و نرخ های بالای سود نیز فشارهای تازه بر نظام مالی جهانی وارد کرده اند .

**نیاز برای تنوع**

بانک های مرکزی اکنون ترکیب دارایی های خود را با دقت بیشتر بازنگری می کنند. طلا دوباره به عنوان بی طرف ترین پوشش مطرح شده است که مصون از تحریم، بدون ریسک طرف معامله و با سابقه طولانی به عنوان ذخیره ارزش از اهمیت خوبی برخوردار می باشد. از ۲۰۲۲ تاکنون، کشورهای چون ترکیه، هند و چین خریداری های خود را افزایش داده اند و تقاضای رسمی جهانی به بالاترین سطح چند دهه رسیده است. با این حال، طلا نقدینگی کمتری نسبت به اوراق خزانه دارد، مفاد ثابت تولید نمی کند و نوسان قیمت آن می تواند ثبات ذخایر را تهدید کند. بنا بر این برای بسیاری، طلا بیشتر بیمه ستراتیژیک است.

یوان چین عنصر مهم دیگری در تنوع ذخایر است. چین با گسترش پرداخت و دریافت پول در معاملات بین المللی با یوان به جای دالر یا یورو، ایجاد خطوط سواپ یا توافق های دوجانبه میان بانک های مرکزی برای مبادله ارز در زمان نیاز به نقدینگی، و ابتکارات چون کمربند و جاده، جایگاه یوان را تقویت کرده است. سهم یوان در ذخایر جهانی اندکی افزایش یافته و استفاده از آن در پرداخت های بین المللی از طریق سیستم پرداخت بین البانکی چین (سی آی پی اس) گسترش یافته است. با این حال، کنترول های سرمایه، محدودیت های مبادله و نگرانی های شفافیت مانع رشد سریع آن می شوند. پیش بینی ها نشان می دهد سهم یوان تا سال ۲۰۳۵ به سختی از ۱۰ درصد فراتر خواهد رفت. در عمل، یوان چین بیشتر نقش حمايتي دارد، نه اینکه بتواند به طور کامل جای دالر را بگیرد.

علاوه بر این، بانک های مرکزی به ارزهای ثانوي چون دالر کانادا، کرون سویدن و دالر آسترالیا نیز توجه دارند. این ارزها پشتوانه اقتصادهای باثبات را دارند، اما عمق و نقدینگی دالر یا یورو را ندارند. سرمایه گذاری مسئولانه اجتماعی نیز وارد بحث شده است، هرچند پذیرش آن میان اقتصادهای پیشر فته و نو ظهور متفاوت است. همچنین هوش مصنوعی به عنوان ابزار نوین برای بهترین ترکیب دارایی ها، مدیریت ریسک و گزارش دهی در حال گسترش است. این نوآوری ها نشان می دهد

تنوع دیگر تنها به دارایی ها محدود نیست، بلکه به روش ها و رهبری نیز گسترش یافته است.

**ساختارهای جدید در اقتصاد جهانی**

پیامدهای گسترده تحریم ها و تنوع در تجزیه مالی جهانی آشکار است. کشورهای که از ثبات سیاسی کمتر برخوردارند، با کاهش سرمایه گذاری بین المللی مواجه اند و سرمایه گذاران سبد سرمایه گذاری خود را بیشتر در داخل کشور شان متمرکز می کنند، که این امر هزینه بیمه ریسک ناشی از سیاست های کشور و نوسانات را افزایش می دهد. در حال حاضر، زیرساخت های موازی مالی در حال ظهورند؛ به طور مثال سیستم پرداخت بین البانکی چین (سی آی پی اس) و سیستم پرداخت بین البانکی روسیه (اس پی ایف اس) که جایگزین بخشی از سویفت شده اند. این تقسیم بندی خطر ایجاد بلوک های موازی را به همراه دارد که یکی بر دالر و دیگری بر یوان چین مبتنی است. چنین تجزیه موثریت را کاهش می دهد، هزینه ها را بالا می برد و هماهنگی جهانی در بحران ها را تضعیف می کند. افزون بر این،روند مذکور می تواند اعتماد سرمایه گذاران بین المللی را نسبت به یکپارچگی نظام مالی جهانی کاهش دهد و کشورها را به سمت ایجاد اتحادهای منطقه یی سوق دهد. در نتیجه، احتمال شکل گیری دو یا چند قطب مالی مستقل افزایش می یابد که هر کدام قواعد و زیرساخت های خاص خود را خواهند داشت. این چندپارچگی نه تنها جریان های سرمایه را پراکنده می کند، بلکه خطر رقابت های مالی و ارزی را نیز بالا می برد و مدیریت بحران های جهانی را دشوارتر می سازد.

**دیدگاه های عملی**

شواهد نظرسنجی ها نشان می دهد این تحولات چگونه اولویت ها را تغییر داده اند. ریسک ژیوپولیتیک اکنون مهم ترین نگرانی مدیران ذخایر است. درگیری های غزه، جنگ اوکراین و تنش های تایوان احتیاط در تخصیص دارایی را افزایش داده اند. نوسانات بازار اوراق قرضه، ناشی از تغییرات غیرمنتظره انفلاسیون و عدم قطعیت سیاست پولی آمریکا، دومین نگرانی بزرگ است. از سوی دیگر، ضرر های مالی از سال ۲۰۲۱ بدینسو بسیاری را به بازنگری در تخصیص دارایی واداشته است. هرچند روند کاهش وابستگی به دالر در حال افزایش است، اما انتظار نمی رود سهم یوان چین از ۱۰ درصد فراتر رود. این واقعیت نشان می دهد سلطه دالر همچنان پابرجاست، هرچند فشارهای سیاسی اعتبار آن را در بعضی بخش ها زیر سوال برده است. سیاست گذاران اکنون نیاز دارند تا میان مقاومت و انعطاف پذیری تعادل برقرار کنند. تقویت همکاری های چندجانبه برای جلوگیری از تجزیه عمیق ضروری است. شفافیت بیشتر در گزارش ذخایر می تواند عدم قطعیت را کاهش دهد و اعتماد بسازد. تنوع باید محتاطانه انجام شود. طلا و یوان چین پوشش های مهمی هستند، اما نمی توانند جایگزین عمق و نقدینگی دالر شوند. ارزهای ثانوی، ابزارهای محیط زیستی، اجتماعی و مدیریتی و نوآوری های تکنالوژیکی مانند هوش مصنوعی نقش های موثر خواهند داشت. پیام واضح است: مدیریت ذخایر به خط مقدم دفاع در برابر شوک های ژیوپولیتیک مبدل شده است و نیازمند آینده نگری، سازگاری و تعادل است.

**نتیجه گیری**

استفاده از ذخایر به عنوان ابزار فشار سیاسی، که با مسدود شدن ۳۰۰ میلیارد دالر روسیه پس از جنگ اوکراین به اوج رسید، چشم انداز مالی جهانی را دگرگون کرد. این اقدام تنوع به طلا و یوان چین را شتاب بخشید و شکنندگی نظام مالی را آشکار ساخت، نظامی که سال ها بر سلطه دالر استوار بود.

هرچند دالر همچنان بی رقیب در نقدینگی و عمق باقی مانده است، اما تصویر کلی نشان دهنده روندی است که جریان های سرمایه، سیستم های پرداخت و الگوهای سرمایه گذاری را بیش از پیش به تعاملات ژیوپولیتیک گره می زند. چالش سیاست گذاران، یافتن تعادل میان انعطاف پذیری و حفاظت است تا بتوانند نقدینگی را حفظ کرده و امنیت ذخایر را در کنار کاهش آسیب پذیری در برابر شوک های سیاسی برقرار کنند. آنچه به عنوان واکنشی به تحریم ها آغاز شد، اکنون به تنظیم دوباره ستراتیژیک مدیریت ذخایر مبدل شده است. آینده ثبات مالی جهانی نه تنها با اقتصاد، بلکه با ژیوپولیتیک اعتماد و قدرت تعریف خواهد شد. در این مسیر، نقش همکاری های منطقه یی و ایجاد پیمان های ارزی جایگزین نیز پررنگ تر شده است؛ زیرا کشورها می کوشند با ایجاد شبکه های پرداخت مستقل و تقویت ذخایر متنوع، وابستگی خود را به یک ارز واحد کاهش دهند. این روند هرچند هزینه ها و پیچیدگی های تازه ایجاد می کند و هماهنگی جهانی را دشوارتر می سازد، اما در عین حال ظرفیت انعطاف پذیری و تاب آوری سیستم مالی را افزایش داده و امکان کاهش ریسک ناشی از تمرکز بیش از حد بر یک ارز غالب را فراهم می آورد.

**انورالله حیات، مدیر ارشد نشرات د افغانستان بانک**


مأخذ:

1. International Monetary Fund. (2022). *Annual Report 2022*. Washington, DC: IMF. Retrieved from https://www.imf.org
2. International Monetary Fund. (2024). *World Economic Outlook: Global Economy in Flux*. Washington, DC: IMF. Retrieved from https://www.imf.org
3. Bank for International Settlements. (2023). *Annual Economic Report 2023*. Basel: BIS. Retrieved from https://www.bis.org
4. UBS Asset Management. (2024, July). *Sovereign Investor Survey: Central Bank Reserve Management*. Zurich: UBS. Retrieved from https://www.ubs.com
5. Investing.com. . (2022, March). *Western sanctions freeze $300 billion of Russian reserves*. Retrieved from https://www.investing.com
6. The Economist. (2022, March). *Russia's frozen reserves and the future of global finance*. London: The Economist Group. Retrieved from https://www.economist.com
7. Cheah, Z. (2025, June). *On the BIS Annual Economic Report 2025*. LinkedIn. Retrieved from https://www.linkedin.com




**کله چې پیسې ثبات لرونکې وي، خلک د توکو د پېر لو لوړ ځواک لري او د کورنیو هوسـاینه تأمینېږي. افغانۍ ثبات لرونکې پیسې دي او دا موضوع د خلکو د خوښۍ لامل شوې ده.**



# اقتصادي خبرونه

## اوزبېکستان: د افغان-ټرانس پروژې د امکان سنجونې چارې پیل شوې

د اوزبېکستان د ټرانسپورټ وزارت ویلي چې د افغان-ټرانس ریل پټلۍ پروژې اړوندې اساسي ستونزې حل شوې دي او اوس د دې پروژې د امکان سنجونې د مطالعې کار روان دی. د دې پروژې بشپړېدو سره به په کم وخت او لږ لګښت سره په کلني ډول تر ۲۰ میلیونه ټنه توکي له دې لارې انتقال شي. د اقتصادي چارو شنونکي، عبدالله پوهاند وویل: "دغه پروژه د افغانستان، اوزبېکستان او پاکستان په ګټه ده او اوزبېکستان او پاکستان ډېر لېواله دي چې دغه لار جوړه شي." تر دې وړاندې د ۲۰۲۵ کال په جولای کې د افغانستان، اوزبېکستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په خپله لومړنۍ درې اړخیزه ناسته کې د افغان-ټرانس پروژې د امکان سنجونې مطالعې لپاره یو تړون لاسلیک شو. د ټولګټو وزارت ویاند، محمد اشرف حقشناس وویل: "د افغان-ټرانس وسپنې پټلۍ پروژې تړون د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو وزارت، د اوزبېکستان د ټرانسپورټ وزارت او د پاکستان د وسپنې پټلۍ اداري ترمنځ لاسلیک شوی وو او د درې واړو هېوادونو د تخنیکي ډلو د پرله پسې ناستو په پایله کې یوه طرحه جوړه شوه چې پر بنسټ به یې نږدې راتلونکي کې د افغان-ټرانس د امکان سنجونې چارې پیل شي."

«اقتصادي کارپوهان هم باور لري چې د دې پروژې عملي کېدل، د ترانزیتي عوایدو د زیاتوالي ترڅنګ، کولای شي د کاري فرصتونو او اقتصادي پراختیا زمینه هم برابره کړي. د اقتصادي چارو شنونکي، احمد فردوس بهګزین وویل: "دا د افغانستان، پاکستان او اوزبېکستان اړیکې لا نږدې کوي او افغانستان کولای شي د دې لارې له ترانزیتي عوایدو ستره ګټه واخلي." که څه هم اوس مهال د کابل او اسلام آباد ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې دي؛ خو اسلامي امارت وایي، د افغانستان په خاوره کې ټولې ګډې پروژې په ښه ډول روانې دي او تر اوسه یې په کارونو کې کوم خنډ نه لیدل کېږي.



## زعفران هرات برای دهمین سال پیاپی بهترین زعفران جهان شد

زعفران افغانستان با رنگ و مزهٔ ویژه، همچنان در جهان بی‌رقیب است. زعفران هرات برای دهمین سال متوالی، از سوی انستیتوت جهانی ذایقه، عنوان باکیفیت‌ترین زعفران جهان را از آن خود کرده است. این رقابت در شهر بروکسل، پایتخت بلجیم، میان چهار کشور عمده تولیدکننده زعفران جهان شامل افغانستان، ایران، اسپانیا و یونان، برگزار شده بود. جلیل احمد ملکی، مسوول یکی از شرکت‌های زعفران در هرات، گفت: ”انستیتوت جهانی ذایقه هر سال از کشورهای که در حوزه زعفران فعالیت دارند، نمونه می‌خواهد. پس از آزمایش و بررسی نمونه‌ها، کیفیت زعفران هر کشور مشخص می‌شود. در این رقابت کشورهای دیگر نیز حضور داشتند، اما خوشبختانه مقام نخست نصیب ما شد.“ سید



مسعود، مسئول یکی دیگر از شرکت‌های زعفران در هرات، افزود: ”خواست ما از امارت اسلامی این است که در زمینه صادرات زعفران با تاجران ملی همکاری کند و زمینه انتقال سریع، با اطمینان و ارزان را برای آنان فراهم سازد.“ زعفران هرات در بازارهای جهانی مشتریان زیادی دارد. به‌گفته مسئولان محلی، در ماه‌های اخیر صادرات زعفران افغانستان به کشورهای مختلف افزایش یافته است.

